د یوحنا رسول دریم خط

پیژندګلو

د یوحنا دریم خط هم د یوحنا دویم خط پوره کوی او د مېلمستیا په حقله نصیحت هم هغه کړې ده چې په دې خط کښې یو کس ته شابسے ورکړے شوے دے چې ګایوس نومیږی چا چې د رسولانو د تعلیم په مطابق ژوند تیر کړے دے او په خپل کور کښې یې د دعوت تبلیغ کسانو ته هرکلے وئیلے وو. او هم په دې کِتاب کښې د دیوتروفیس د اصلاح ذکر شوے دے څوک چې د جماعت خودغرضه مشر وو او نۀ یواځې دا چې هغۀ د ایماندارانو خدمت نۀ کولو بلکې د خُدائ د خلقو او اُستاذانو مخالفت یې هم کولو او د هغه کسانو غیبت یې کولو او په هغوئ یې زور راوړلو څوک چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ د خیالاتو سره متفِق نۀ وو. په دې کِتاب کښې د دې وضاحت هم کیږی چې غرور به ایمانداران په خپلو کښې تقسیم کړی، کۀ چرې ایمانداران د کِتابِ مقدس په مطابق نۀ اوسیږی. نو چې د دروغو د تعلیم د دوه چندې خطرې او په جماعت کښې د خپل مینځ د بې‌اتفاقۍ نه ځان وساتو نو ضرور ده چې ایمانداران دې د نیکۍ، مینې او عقل نه کار واخلی. د حفظ کولو دپاره ۱: ۱۱ آیت "زما خوږه ملګریه، د بدۍ پیروی مۀ کوه بلکې ښۀ کوه، ښۀ کار کوونکی د خُدائ پاک بچی دی او څوک چې بد کارونه کوی هغوئ خُدائ لیدلے نۀ دے."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا او سلام

۱ د مشر د طرف نه، خوږ ګايوس ته، د چا سره چې زۀ د زړۀ
نه مينه کوم. ۲ زما خوږه ګايوسه، زۀ دُعا غواړم چې تۀ دې داسې
روغ جوړ اوسې لکه څنګه چې په روحانی توګه روغ جوړ يې. ۳
کله چې ورونه راغلل او ما ته يې دا ګواهی راکړه چې تۀ څومره
رښتينے ژوند تېروې نو په دې ډېر خوشحاله شوم او چې تۀ څومره په
رښتينې لار روان يې. ۴ د دې نه زياته خوشحالی ما ته په بل هيڅ
څيز کښې نشته چې کله زۀ دا واورم چې زما بچی په حقه لار روان
دی.

مدد او مخالفت کول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ اے ګرانه وروره، تۀ د وروڼو په خِدمت کښې ډېر وفادار یې،
اګر کۀ تا ته هغوئ پردی دی. ۶ هغوئ دلته د جماعت په وړاندې
ستا د ښۀ وروروڼو ګواهی ورکړه. نو دا به ستا مهربانی وی چې د
دوئ په سفر کښې هم هغه شان مدد جاری وساتی د کومې وروروڼو
نه چې خُدائ پاک رضا وی. ۷ هغوئ د عیسیٰ د نوم د خِدمت
کولو دپاره په سفر ووتل او د بې‌دینو نه یې هیڅ قسمه مدد حاصل نۀ
کړو. ۸ نو په دې وجه په مونږ لازم دی چې د داسې خلقو مدد
وکړُو نو چې مونږ د حقیقت په خورولو کښې د هغوئ ملګری شُو.
۹ ما جماعت ته څۀ ولیکل خو دیوترفیس چې د مشری شوق
لرونکے دے هغه زمونږ اختیار نۀ منی. ۱۰ نو کۀ زۀ درغلم نو هغه
کارونه به درته په ګوته کړم کوم چې هغه کوی او زمونږ خلاف
فضول او بدې خبرې کوی، او لا په دې هم نۀ صبریږی بلکې زمونږ
وروڼو ته د هر کلی وئیلو نه هم اِنکار کوی او څوک چې داسې
کوی هغوئ هم منع کوی تر دې چې د جماعت نه یې هم شړی.
۱۱ زما خوږه ملګریه، د بدی پیروی مۀ کوه بلکې ښۀ کوه، ښۀ کار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوونکی د خُدائ پاک بچی دی او څوک چې بد کارونه کوی
هغوئ خُدائ لیدلے نۀ دے. ۱۲ د دیمیتریوس دپاره هر څوک ښۀ
ګواهی ورکوی او دا حقیقت هم دے، مونږ پخپله هم د هغۀ ګواهی
ورکوو او تۀ خبر یې چې زمونږ ګواهی رښتینې ده.

آخری سلام

۱۳ ما سره تاسو ته د لیکلو دپاره ډیرې خبرې دی خو دا نۀ
غواړم چې په قلم او سیاهی یې ولیکم. ۱۴ زما اُمید دے چې ډېر زر
به تاسو ووینم او مخامخ به د یو بل سره خبرې وکړُو. ۱۵ په تا دې
سلامتی وی. ستاسو ملګری تاسو ته سلام وائی، هلته هر یو ملګری
ته په نامه سلام ووایه.